# فضائل وآداب المسجد النبوي، وأحكام زيارة قبر النبي عليه الصلاة والسلام وقبري صاحبيه (للحرمين)

# د نبوي جومات فضائل او آداب، د پيغمبر ﷺ او د هغه د دوو اصحابو رضي الله عنهما د قبرونو د زيارت احکام

***د نبوي جومات فضائل او آداب، د پیغمبر ﷺ او د هغه د دوو اصحابو رضي الله عنهما د قبرونو د زيارت احکام***

د مسجد الحرام او مسجد النبوي د ديني چارو د رياست علمي کمېټه

***د نبوي جومات فضائل او آداب او د پیغمبر ﷺ د قبر او د هغه د دواړو اصحابو رضي الله عنهما د قبرونو د زيارت کولو احکام***

چمتو کوونکی

د مسجد الحرام او مسجد النبوي د ديني چارو د رياست علمي کميټه

١٤٤٧هـ

## مقدمه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه ومن استنَّ بسنته، واهتدى بهديه إلى يوم الدين، أما بعد:

دا لنډه رساله ده، چې د نبوي مسجد تر ټولو مهم فضایل، د هغه د زيارت آداب، او د نبي ﷺ د قبر او د هغه د دواړو ملګرو (رضی الله عنهما) د قبرونو د زيارت آداب پکې بيان شوي دي، موږ دا د نبوي مسجد زيارت کوونکو ته راټول کړي چې د امت د نبي ﷺ د جومات فضيلت، د هغه زيارت او پکې د لمانځه د آدابو په اړه پوهه او بصيرت ولري، له کريم او منان ذات څخه هیله لرو چې دغه رساله ګټوره، نېکه او د خپلې رضا لامل وګرځوي، بېشکه هغه تر ټولو غوره ذات دی چې

سوال ترې کيږي او تر ټولو سخي ذات دی چې هيله ترې کيږي.
علمي کمېټه

## اول: د نبوي مسجد فضيلتونه

الله تعالى فرمايلي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ68﴾

او ستا رب چې څه غواړي هغه پيدا کوي او غوره کوي يې، د دوی څه اختيار نشته، الله لره پاکي ده او له هغه څه ډېر اوچت دی چې دوی يې ورسره شريکوي. [القصص سورت: 68 آيت]، الله تعالى دا ځای د خپل رسول - صلى الله عليه وسلم - لپاره د جومات په توګه غوره کړی او په ډېرو فضيلتونو يې ځانګړی کړی چې ځينې يې دا دي:

دا يو له هغو دريو جوماتونو څخه دی چې په موخه يې کډې تړل کيږي (سفر ورته کيږي).

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم ته يې نسبت کوي:

«لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِي هَذَا، وَمَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى».

«له دريو جوماتونو پرته د سفر په موخه مه ځئ چې هغه: زما دغه جومات، مسجد الحرام، او مسجد الأقصا دي»[1].

---

[1] بخاري په: (1189) او مسلم په: (1397) شميرو روايت کړی او دا لفظ د مسلم دی.

په هغه کې لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو ښخه غوره دی، پرته له مسجد الحرام ښخه:

نو له ابو هريره رضي الله عنه ښخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ، إِلَّا المَسْجِدَ الحَرَامَ».

«زما پدې جومات کې یو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو ښخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بيت الله) ښخه».[1]

دا هغه جومات دی چې بنياد يې له اولې ورځې نه پر تقوا ايښودل شوی دی:

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه ښخه روايت دی، وايي چې: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدو ته ورغلم چې هغه له خپلو مېرمنو ښخه د يوې په کور کې و، نو ومې ويل: اې د الله رسوله، په دغو دوو جوماتونو کې کوم يو دی چې پر تقوا يې بنسټ ايښودل شوی دی؟ نو (رسول الله ﷺ) يو موټی کاڼي راواخيستل، پر ځمکه يې وويشتل او بيا يې وفرمايل:

«هُوَ مَسْجِدُكُمْ هَذَا» لِمَسْجِدِ المَدِينَةِ.

«همدا ستاسو جومات دی» (يعني) د مدينې جومات.[2]

---

[1] بخاري په (1190) او مسلم په (1395) شميرو روايت کړی او دا لفظ د بخاري دی.

[2] مسلم په (1398) شميره روايت کړی دی.

په دې کې د طالب العلم اجر د الله په لار کې د مجاهد د اجر په څېر دی:

او له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه اورېدلي چې ويل يې:

«مَنْ جَاءَ مَسْجِدِي هَذَا، لَمْ يَأْتِهِ إِلَّا لِخَيْرٍ يَتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَمَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذَلِكَ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى مَتَاعِ غَيْرِهِ».

«څوک چې زما دې جومات ته راشي، او يوازې د کوم خېر د زده کولو او يا بل ته ښودلو لپاره راغلی وي، نو هغه د الله تعالی په لار کې د مجاهد په څېر دی، او څوک چې له دې پرته د بل څه لپاره راشي، نو د هغه سړي په څېر دی چې د بل چا مال ته ګوري»[1].

د دې لپاره چې پدې کې روضه شريفه ده:

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي».

«زما د کور او منبر ترمنځ د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده، او زما منبر زما پر حوض دی»[2].

---

1 ابن ماجه په : (227) شمېره په صحيح سند سره روايت کړی دی.

2 متفق عليه: بخاري، په: ١١٩٥، او مسلم، په: ١٣٩٠ شمېرو روايت کړی.

## دویم: د مسجد النبوي شریف د زیارت مستحب والی

د همدې او نورو فضیلتونو له امله - په نبوي مسجد کې د لمانځه او عبادت کولو لپاره - د هغه زیارت مستحب دی.

د حج څخه مخکې یا وروسته د حاجي او غیر حاجي لپاره د نبوي مسجد زیارت سنت دی او دا زیارت د حج له شروطو، ارکانو او واجباتو څخه نه دی، او له هغه سره هیڅ تړاو نه لري.

- د نبوي مسجد د زیارت لپاره د لمونځونو کوم ځانګړی شمېر، یا په مدینه منوره کې د یوې ځانګړې مودې اوسېدل شرط نه دی، بلکې زیارت یې په یو لمونځ سره هم پوره کېږي، که هغه فرضي وي او یا نفلي، خو هر څومره چې پکې د لمونځونو شمېر زیات شي، هغومره یې اجر هم زیاتیږي.

د نبوي جومات زیارت کوونکي لپاره مستحب دي چې ټول فرضي او نفلي لمونځونه پکې ادا کړي؛ ځکه چې په هغه کې لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله، پرته له مسجد الحرام، د زرو لمونځونو څخه غوره دی.

## درېیم: د نبوي مسجد د زیارت آداب

کله چې مسلمان نبوي جومات ته راشي، نو ښایي چې د جوماتونو عام او د نبوي جومات خاص شرعي آداب مراعت کړي، او هغه دا دي:

چې جومات ته په عاجزۍ، درناوي، طهارت، ښایسته بڼه او خوږ بوی سره راشي، له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«إِذَا ثُوِّبَ لِلصَّلَاةِ فَلَا تَأْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ»،

«کله چې د لمانځه لپاره غږ وشي، نو په بېړه ورته مه راځئ، بلکې په آرامۍ سره ورته راشئ، څه (لمونځ)مو چې لاندې کړ هغه ادا کړئ، او څه چې درڅخه تللي و، نو بشپړ يې کړئ، ځکه کله چې له تاسو څخه يو تن د لمانځه قصد وکړي، نو هغه په لمانځه کې دی»[1]، او له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«الغُسْلُ يَوْمَ الجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ، وَأَنْ يَسْتَنَّ، وَأَنْ يَمَسَّ طِيبًا إِنْ وَجَدَ»،

«د جمعې په ورځ پر هر بالغ غسل کول واجب دي او دا چې مسواک ووهي، خوش بويي ولګوي که وموندل شي»[2]، او ښځه چې کله جومات ته راځي، نو پرې واجب دي چې په خپل حجاب کې پټه وي، او خوشبويي يا عطر لګول ورته روا ندي؛ رسول الله ﷺ فرمايلي:

«إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيبًا».

"کله چې له تاسو څخه کومه يوه جومات ته حاضرېږي، نو خوشبويي دې نه لګوي"[3].

نبوي جومات ته د ننوتلو پر مهال د ښۍ پښې مخکې کول، او جومات ته د ننوتلو دعا ويل. نو زيارت کوونکي ته مستحب

---

1 بخاري په (۶۳۶)، او مسلم په (۶۰۲) شمېره نقل کړی دی.

2 متفق عليه: بخاري په: ۸۴۶ او مسلم په: ۸۵۸ شمېره روايت کړی، او مُحْتَلِم بالغ ته وايي.

3 مسلم په (۴۴۳) شمېره نقل کړی دی.

دي چې نبوي جومات ته د ننوتلو پر مهال د نورو جوماتونو په څېر خپله ښۍ پښه مخکې کړي او دا دعا دې ووايي:

«بِسْمِ اللَّهِ، وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»،

«بِسْمِ اللَّهِ، وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»،

«د الله په نوم، او سلام دې وي په رسول الله، اې الله، زما ګناهونه وبخښه او زما لپاره د خپل رحمت دروازې پرانيزه»[1]، او همدا رنګه وايي:

«أَعُوذُ بِاللَّهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

«أَعُوذُ بِاللَّهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ». «زه په لوی الله، د هغه په کريم مخ او د هغه په ازلي قدرت سره له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم»[2].

د تحية المسجد ادا کول: هغه چا ته چې نبوي مسجد ته د لمانځه لپاره ننوځي، سنت دي چې له کېناستو څخه مخکې دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړي، د ابو قَتَادَةَ الحَارِث بْن رِبْعِيٍّ الأَنْصَارِيّ رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ المَسْجِدَ، فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ».

---

1 ابن ماجه په صحيح سند سره په: (٧٧١) شمېره روايت کړی.

2 ابو داود په: (۴۶۶) شمېره په صحيح سند سره نقل کړی دی.

""کله چې یو له تاسو څخه جومات ته ننوځي، نو تر هغه پورې دې نه کښېني چې دوه رکعته لمونځ يې نه وي ادا کړی"[1].

د لوی فضيلت له امله په لومړيو صفونو کې پر لمانځه کولو ټينګار؛ او دا يوازې لمانځه ته په وختي ورتګ سره کيږي، دليل يې د ابو هريرة رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

«لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا»[12]،

«که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څه دي (څومره ثواب دی) او بيا يې لدې پرته بله لار نه موندله چې پچه پرې واچوي، نو پچه به يې اچولې وای»،[2] او خپلو اصحابو - رضي الله عنهم - ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينا له مخې چې فرمايي:

«تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي، وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ، لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللَّهُ»[13].

«مخکې شئ؛ او ما پسې اقتدا وکړئ، او هغه کسان چې ستاسو شاته دي، هغوی دې تاسو پسې اقتدا وکړي، ځينې خلک تر هغه پورې وروسته وروسته کيږي چې الله تعالی يې وروسته پاتې کړي».[3]

---

1 متفق عليه: بخاري، په شمېره (۱۱۷۱) او مسلم، په (۷۱۴) شمېره روايت کړی دی.

2 متفق عليه: بخاري، په: (۶۱۵)، او مسلم، په: (۴۳۷) شمېرو روايت کړی.

3 مسلم په (۴۳۸) شمېره روايت کړی.

او ښځې چې دي نو د هغوی لپاره غوره ده چې له سړيو څخه لرې په وروستيو صفونو کې لمونځ وکړي، د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله ﷺ فرمايلي:

«خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا، وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا، وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا»[14]،

"د نارينه وو لپاره غوره صفونه لومړي او بدترين يې وروستي دي او د ښځو لپاره غوره صفونه وروستي او تر ټولو بد يې لومړي صفونه دي"،[1] خو که دوی په جلا توګه لمونځ کوي، يا د دوی او نارينه وو تر منځ پرده وي، لکه څنګه چې په نبوي مسجد کې دي، نو د هغوی لپاره تر ټولو غوره صفونه لومړني دي؛ ځکه چې په دې حالت کې علت له منځه ځي.

د امام تر شا لمونځ کول او ترې له مخکې کېدو څخه ځان ساتل؛ له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي:

«إِنَّمَا جُعِلَ الإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ»[15].

"«امام د دې لپاره ټاکل شوی چې پيروي اقتدا پسې وشي».[2]

او لمونځ کوونکي ته جايز نه دي چې له امام څخه مخکې شي مګر د ضرورت په حالت کې، کله چې جومات په لمونځ کوونکو داسې ډک شي چې د امام له مخې پرته د لمانځه لپاره بل ځای ونه مومي.

1 مسلم په: (۴۴۰) شميره روايت کړی دی.
2 بخاري په (۷۲۲) او مسلم په (۴۱۷) شميره روايت کړی دی.

د صفونو ترمنځ د تشو ځايونو په ډکولو او د صفونو په برابرولو ټينګار، خو د خلکو له تنګولو، پر اوږو يې له تېرېدو، او د لمونځ کوونکو له مخې تېرېدلو څخه بايد ځان وساتل شي؛ ځکه چې دا کار د ګناه لامل ګرځي.

په روضه شريفه کې لمونځ کول د هغه چا لپاره چې ورته اسان وي؛ د ابوهريره رضي الله عنه د حديث پر اساس چې له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی، فرمايي:

«مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي».

«زما د کور او منبر ترمنځ د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده، او زما منبر زما پر حوض دی».[1]

په روضه کې د لمانځه په اړه کوم ځانګړی فضيلت نه دی ذکر شوی، خو دا ثابته ده چې دا د جنت له باغونو څخه يوه باغچه ده - لکه څنګه چې پرې د ابو هريرة رضي الله عنه مخکنی حديث دلالت کوي - او عبادتونه د خپل زمان او مکان د فضيلت له امله غوره کيږي.

* زيارت کوونکی دې په روضه کې د لمانځه لپاره هغه مناسب وختونه وټاکي چې ګڼه ګوڼه پکې کمه وي؛ نو روا نه ده چې هلته د لمونځ کولو لپاره د خپلو مسلمانانو وروڼو مزاحمت وکړي، د خلکو له اوږو څخه تېر شي، او يا د لمونځ کوونکو له مخې تېر شي، ځکه په روضه کې لمونځ نفل دی، نو د حرام کار له لارې دې دغه نفل نه ترلاسه کوي.

---

1 متفق عليه: بخاري، په (۱۱۹۵) او مسلم په (۱۳۹۰) شمېره روايت کړی .

همدارنګه زیارت کوونکی باید روضې ته د ننوتلو اړوند د ځانګړو قوانینو او ترتیباتو پابند وي، مناسب وختونه دې غوره کړي، او د زیارت کوونکو د ننوتلو له تنظیموونکو سره دې همکاري وکړي.

په ډېرو نیکو عملونو سره وخت غنیمت ګڼل، څو انسان خپل خالق سبحانه ته نږدې شي، لکه لمونځ، د قرآن کریم تلاوت، ذکر، دعا، د ذکر په مجلسونو کې ګډون، علمي درسونه، د قرآن کریم د زده کړې حلقې او داسې نور.

د الله عزوجل د کتاب احترام او په پاڼو کې یې له بې ځایه لاسوهنې، پرې لیکلو، او یا څنګ ته یې د بوټ په ایښودلو، یا پر ځمکه غورځولو او داسې نورو سره، د هغه له سپکاوي او بې احترامۍ څخه یې ساتنه، الله تعالی فرمایلي:

﴿ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ32﴾

﴿ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ﴾32.

(همداسې ده، او څوک چې د الله (د دین) د نښانو درناوی کوي نو دا کار زړونو له تقوا څخه دی). [الحج سورت: 32 ایت ].

له هغه څه څخه د سترګو ساتنه چې الله عز وجل حرام کړي دي: د نبوي مسجد پر زیارت کوونکو واجب دي چې خپلې سترګې له هغه څه څخه ښکته وساتي چې کتل ورته روا نه دي او باید په دې مبارکو ځایونو کې د ګناه د ارتکاب پر لویوالي او هغو سزاګانو پوه شي چې پرې مرتبیږي؛ ځکه چې ګناهونه د زمان او مکان په عظمت سره په اندازه او کیفیت کې لوییږي، او همدارنګه نېک عملونه هم. او مسلمانه

ښځه باید په شرعي حجاب کلکه پابندي وکړي او خپل زینت ښکاره نه کړي، ترڅو نارینه په فتنه کې وا نه چوي، ځکه چې ددې کار ګناه ډېره لویه ده.

په عکس اخیستلو یا په موبایل کې د عکسونو او ویډیوګانو په کتلو له بوختېدو څخه ځان ساتل، او د دې کار خطر هغه وخت ډېرېږي، کله چې دا عکسونه او ویډیوګانې حرامې وي.

د مسجد نبوي پاک ساتل له هر هغه څه څخه چې د هغه له شان سره وړ نه وي، لکه جنجالونه، د غږ لوړول، د ورک شوي شي اعلانول، خرڅلاو، او داسې نور کارونه چې په هغه او نورو جوماتونو کې باید ونشي؛ د ابو هریره رضی الله عنه د حدیث پر بنسټ چې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه یې روایت کړی فرمایلي دي:

«إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي المَسْجِدِ، فَقُولُوا: لَا أَرْبَحَ اللَّهُ تِجَارَتَكَ، وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً، فَقُولُوا: لَا رَدَّ الله عَلَيْكَ»[17].

«کله چې تاسې په جومات کې څوک ووینئ چې پلور یا پیر کوي، نو ورته ووایئ: الله دې په سوداګرۍ کې ګټه درنه کړي، او کله چې تاسې څوک ووینئ چې په جومات کې د ورک شوي شي اعلان کوي، نو ورته ووایئ: الله دې درته بېرته در نه کړي»[1].

پر شخصي نظافت ټینګار، او له بد بويي لکه هوږې، پیازو، سګرېټو خولو او داسې نورو څخه ځان ساتل، چې د

---

[1] ترمذي په (۱۳۲۱) شمېره او ابن خزیمه په (۱۳۰۵) شمېره په صحیح سند سره روایت کړی دی.

خپلو لمونځ کوونکو ورونو د ازار سبب ګرځي؛ له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا، فَلْيَعْتَزِلْنَا - أَوْ قَالَ: فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا - وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ»[18].

«چا چې هوږه يا پياز وخوړل، نو له موږ څخه دې جلا شي - يا يې وفرمايل: زموږ له جومات څخه دې ځان ګوښه کړي - او په خپل کور کې دې پاتې شي».[1]

د نبوي مسجد پاک ساتل او په جومات او انګړونو کې يې د خځلو نه غورځول، لکه د خوړو پاتې شوني او د روژه ماتي دسترخوانونه، په ځانګړي ډول د روژې په مياشت کې، او يا په لارو او انګړونو کې لاړې غورځول، او داسې نور.

په لارو، د دروازو په خولو او د ګڼې ګوڼې په ځايونو کې له لمانځه کولو څخه ډډه کول، ځکه چې دا کار د فساد، د لارو بنديدو، او مسلمانانو ته د ازار رسيدو لامل ګرځي.

نارينه او ښځې دې په نبوي مسجد يا د هغه په خواوشا ساحو کې، هر يو په خپل ځانګړي ځای کې لمونځ ادا کړي، نه دې سړی د ښځې تر څنګ لمونځ کوي او نه ښځه د سړي تر څنګ، او تر خپلې وسې بايد د امام له مخکې کېدو څخه ډډه وشي.

له مسجد څخه د راوتلو پر مهال به چپه پښه مخکې کوي او وايي:

---

1 بخاري په (۷۳۵۹) او مسلم په (۵۶۴) شمېره روايت کړی دی.

«اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»،
«اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»[1]،
«اې الله، زه ستا د فضل غوښتنه کوم»، یا دې په رسول الله ﷺ درود ووايي، او ودې وايي:
«رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ».
«رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ»[2].
"ای ربه، زما ګناهونه وبخښه، او زما لپاره د خپل فضل دروازې پرانېزه".

## څلورم: د پیغمبر ﷺ او د هغه د دوو صاحبینو رضي الله عنهما د قبرونو د زيارت کولو احکام او آداب

د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د دوو ملګرو: ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د قبرونو زيارت کول، د مدينې اوسېدونکو او راغلو مسافرو او زيارت کوونکو لپاره مستحب دی؛ د هغو عمومي دلايلو له مخې چې د قبرونو د زيارت پر مشروعيت دلالت کوي، چې له جملې څخه يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

«نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ، فَزُورُوهَا»[21].
«ما تاسو د قبرونو له زيارت څخه منع کولئ، نو زيارت يې وکړئ»[3].

او د رسول الله ﷺ له وفات نه وروسته پرې د سلام پر فضيلت د هغه ﷺ دا وينا دلالت کوي:

---

1 مسلم په (٧١٣) شمېره روایت کړی دی.
2 ترمذي په (٣١٤) شمېره په صحیح سند سره روایت کړی دی.
3 مسلم په (٩٧٧) شمېره نقل کړی دی.

«مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ، إِلَّا رَدَّ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيَّ رُوحِي حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ»[22].

«هېڅوک پر ما سلام نه اچوي مګر دا چې الله تعالی ماته زما روح راګرځوي چې ځواب يې ورکړم».[1]

او ښځو ته نه د رسول الله ﷺ د قبر او نه هم د نورو مسلمانانو د قبرونو زيارت کول روا دي، ځکه چې د قبرونو زيارت د نارينه وو لپاره مشروع دی، خو ښځې د قبرونو له زيارت څخه منع شوي دي، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې:

«لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ، وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ»[23]،

«رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبرونو پر زيارت کوونکو (مېرمنو)، او هغو کسانو لعنت ويلی چې جوماتونه پرې جوړوي او څراغونه پرې روښانه کوي»،[2] او له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې:

«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ»[24].

«رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبرونو پر زيارت کوونکو (مېرمنو) لعنت ويلی دی».[3]

---

1 احمد په خپل مسند کې په (۱۰۸۱۵) شميره روايت کړی او سند يې حسن دی.

2 ابو داود په (۳۲۳۶)، ترمذي په (۳۲۰) او نسائي په (۲۰۴۳) شميره نقل کړی دی.

3 ترمذي په : (۱۰۵۶) او ابن ماجه په: (۱۵۷۶) شميره روايت کړی او اسناد يې حسن دی.

*او د رسول الله ﷺ قبر ته يوازې د زيارت په نيت سفر كول روا نه دي، بلكې په خپل سفر كې دې د جومات د زيارت او يكې د لمانځه كولو نيت وكړي، نو كله چې په مدينه كې ميشت شي، د قبر زيارت ورته روا دى، لكه څنګه چې د مدينې اوسيدونكو ته روا دى؛ دليل يې د رسول الله ﷺ دا وينا ده چې فرمايي:

«لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِي هَذَا، وَمَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى»[25].

«له دريو جوماتونو پرته په سفر مه ځئ چې هغه: زما دغه جومات، مسجد الحرام، او مسجد الأقصا دي».[1]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر او د هغه د صاحبينو رضي الله عنهما د قبرونو د زيارت شرعي آداب.

زيارت كوونكى به د نبي ﷺ د قبر مخامخ ودريږي، بيا به په ادب او ټيټ غږ سره پر نبي ﷺ داسې سلام وايي: (السلامُ عليك يا رسول الله، ورحمة الله وبركاته)، او كه پر دې يې زياتونه وكړه او ويې ويل: (أشهد أنك قد بلغت الرسالة، وأديت الأمانة، ونصحت الأمة، وجاهدت في الله حق الجهاد) يعني زه ګواهي وركوم چې تا خپل رسالت ادا كړى، امانت دې سپارلى، امت ته دې نصيحت او لارښوونه كړې او د الله په لار كې دې حق جهاد كړى دى) نو په دې كې څه حرج نشته؛ ځكه چې دا ټول حق دي.

[1] بخاري په (١١٨٩)، او مسلم په (١٣٩٧) شميرو روايت كړى او دا لفظ د مسلم دى.

بیا یو ګام ښي خوا ته مخکې ځي؛ ترڅو د ابو بکر صدیق رضي الله عنه قبر ته مخامخ شي او ووايي: (السلام علیك یا أبا بکر الصدیق، السلام علیك یا خلیفة رسول الله ﷺ رضي الله عنك وأرضاك، وجزاك عن أمة محمد ﷺ خیرًا). یعني: سلام دې وي پر تا ای ابوبکر الصدیق! سلام دې وي پر تا ای د الله د رسول ﷺ خلیفه، الله دې تانه راضي شي او تا دې خوشحال کړي، او د محمد ﷺ د امت لخوا دې تاسو ته ښه اجر درکړي.

بیا یو ګام ښي خوا ته مخکې ځي، ترڅو د عمر بن الخطاب رضي الله عنه قبر ته مخامخ شي، او وایي: (السلامُ علیك یا عمر الفاروق رضي الله عنك وأرضاك، وجزاك عن أمة محمد ﷺ خیرًا) یعني سلام دې وي پر تا ای عمر الفاروق! الله دې له تا څخه راضي شي او تا دې راضي کړي او الله دې د محمد صلی الله علیه وسلم د امت له خوا تاسو ته ښه اجر درکړي."

او کله چې به ابن عمر رضی الله عنهما له سفر څخه راستون شو، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر ته به ورته او ویل به یې: «سلام دې وي پر تا، اې د الله رسوله، سلام دې وي پر تا، اې ابو بکره، سلام دې وي پر تا، اې زما پلار جانه!، بیا به روان شو».[1]

نه به د قبر دیوالونه لمسوي او ښکلوي او نه یې پنجره.

---

1 بیهقي په «السنن الکبری» کې په: (١٠٢٧١) شمېره، په صحیح سند روایت کړی دی.

امام مالک رحمه الله فرمايلي: کله چې په نبي ﷺ سلام وايي، نو قبر ته دې مخ کړي؛ نه قبلې ته، او ورنژدې دې شي، سلام دې ووايي او په خپل لاس دې قبر نه لمسوي".[1]

او علماوو اتفاق کړی چې د نبي ﷺ په قبر به لاس نه راکاږي او نه به يې ښکلوي.

د قبر سره به ډېر نه تم کيږي، بلکې سلام به ووايي او روانيږي به.

امام مالک رحمه الله فرمايي: "زما په اند دې څوک د نبي ﷺ قبر سره د دعا لپاره نه دريږي، بلکې سلام دې ووايي او تېر دې شي".[2]

او نافع -رحمه الله- فرمايلي دي: "ابن عمر به قبر ته سلام کاوه .. ما هغه سل ځله او تر هغه ډېر ليدلی چې قبر ته به راته او ويل به يې: "السلام على النبي ﷺ. السلام على أبي بكر، السلام على أبي"، بيا به ولاړ".[3]

او هغه څه چې ځينې زيارت کوونکي يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر د زيارت پر مهال کوي لکه: غږ پورته کول او د اوږد مهال لپاره ودريدل، نو دا کار د شريعت خلاف عمل دی.

1 الشفا للقاضي عياض (٢/ ١٩٩).

2 الشفا للقاضي عياض (٢/ ١٩٩).

3 الآجري په کتاب الشريعة (٥/٢٣٧٤) کې په (١٨٥٣) شميره روايت کړی دی.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم او يا له هغه پرته د نورو مخلوقاتو څخه د کتې تر لاسه کولو، يا زيان لرې کولو، حاجت پوره کولو، سختۍ لرې کولو، ناروغ ته شفا ورکولو، شفاعت غوښتلو، له عذاب څخه د نجات غوښتلو، او يا داسې نورې دعاګانې غوښتنل جواز نه لري؛ ځکه چې له الله پرته له بل چا څخه په هغو چارو کې غوښتنه چې يوازې الله تعالى پرې وس لري، حرام او لوى شرک دى، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ60﴾

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ60﴾(او ستاسو رب ويلي دي چې ما دروبولئ سوال به مو قبول کړم، يقيناً هغه کسان چې زما له عبادته لويي کوي زر به په سپکاوي سره جهنم ته ننوځي). [غافر سورت: ۶۰ ايت ]، الله سبحانه و تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ194﴾

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ194﴾ (بې شکه هغه چې تاسو يې له الله نه پرته رابلئ، هغوى هم ستاسو په شان بندګان دي، نو را ويې بلئ ځواب دې درکړي، که تاسو رښتيني ياست. [الأعراف سورت: ۱۹۴]ايت ، او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا18﴾

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا18﴾

(او دا چې جوماتونه د الله لپاره دي، نو له الله سره هیڅوك مه رابولئ). [الجن سورت: ۱۸ آیت].

د قبر تر څنګ دې الله تعالی نه دعا نه غواړي، که د دعا اراده ولري، نو له قبر څخه دې وړاندې شي، قبلې ته دې مخ کړي او دعا دې وکړي، او د دعا لپاره دې قبر ته مخ نه کوي.

او امام مالک رحمه الله فرمایلي: «زه دا سم نه ګڼم چې د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر سره ودریږي او دعا وکړي».

جومات ته د ننوتلو او یا وتلو پر مهال قبر ته ډېر تګ راتګ کول، نه د مدینې اوسېدونکو او نه هم له بهر څخه راغلو زیارت کوونکو ته روا دي، ځکه وېره شته چې دا به قبر ته ورتګ یو دود وګرځول شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې څخه منعه کړې ده او فرمایلي دي:

«لَا تَتَّخِذُوا قَبْرِي عِيدًا، وَلَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَحَيْثُمَا كُنْتُمْ فَصَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي»[30].

«زما قبر دودیز ځای مه ګرځوئ، او خپل کورونه مو هدیرې مه ګرځوئ، هر چېرې چې یاست پر ما درود وایئ، ځکه ستاسو درود ماته رارسیږي»[1].

او د «لا تتخذوا قبري عیدًا» معنی دا ده چې: په ځانګړو وختونو او حالاتو کې ورته بیا بیا ورتګ، لکه د هغه د زیارت لپاره هره ورځ، اونۍ یا میاشت ځانګړې کول، یا د ځینو

[1] احمد په المسند کې په: (۸۸۰۴) شمیره روایت کړی او اسناد یې حسن دی.

ځانګړو حالاتو له امله يې زيارت کول دي. او ويل شوي چې: هغه داسې موسم مه ګرځوئ چې تاسو پکې راټولېږئ.[1]

امام مالک -رحمه الله- فرمايلي: "ځوک چې د مدينې له اوسېدونکو څخه وي او جومات ته ننوځي او وځي، پر هغه د قبر تر څنګ درېدل لازم نه دي، بلکې دا يوازې د مسافرو لپاره دي".[2]

او د هغه رحمه الله وينا چې وايي «دا يوازې د مسافرو لپاره دی» يعنې يوازې زيارت، نه دا چې د وتو او ننوتو پر مهال تکرار شي.

د قبر مخې ته دې د لمونځ کوونکي په څېر نه درېږي چې خپل يو لاس پر بل د سينې له پاسه يا لاندې کېږدي؛ ځکه دا حالت يوازې په لمانځه پورې ځانګړی دی او دا د ذلت او خضوع يوه بڼه ده چې يوازې د الله پاک لپاره ښايي.

پر نبي ﷺ د سلام اچولو لپاره له لرې ځايه د قبر لور ته مخ نه ګرځول کيږي لکه ځينې خلک يې چې کوي؛ ځکه دا کار صحابه و رضي الله عنهم ندی کړی، او نه هم سلف صالحينو لکه څلورو امامانو او نورو.

د دعا ، تلاوت او داسې نورو کارونو پر مهال بايد قبر ته مخ ونه ګرځول شي، ځکه دا د هغو مخکينيو بدعتونو په څېر دی او مسلمان ته روا نه دي چې په خپل دين کې هغه څه نوي

---

1 وګوره: المفردات؛ د الراغب الأصفهاني ( ۵۹۴ مخ)، شرح الصدور بتحريم رفع القبور د شوکاني (۱۶) مخ.
2 الشفا د قاضي عياض (۲/ ۲۰۴)، المدخل د ابن الحاج (۱/ ۲۶۲).

کړي چې الله تعالی یې اجازه نه وي ورکړې، او امام مالک رحمه الله دې ته ورته عملونو څخه انکار کړی او ویلي یې دي: «د دې امت آخر نه اصلاح کېږي مګر په هغه څه چې اول یې پرې اصلاح شوی دی».[1]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د سلام ویلو پرمهال په عکس اخیستلو او ژوندۍ خپرونې باندې نه بوختېدل.

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم

---

1 مجموع فتاوی ابن باز (۱۶/ ۱۱۰).

فهرست

د نبوي جومات فضائل او آداب، د پیغمبر ﷺ او د هغه د دوو اصحابو رضي الله عنهما د قبرونو د زیارت احکام........................................2
د نبوي جومات فضائل او آداب او د پیغمبر ﷺ د قبر او د هغه د دواړو اصحابو رضي الله عنهما د قبرونو د زیارت کولو احکام..................2
مقدمه ..........................................................................2
اول :د نبوي مسجد فضیلتونه........................................................3
دویم :د مسجد النبوي شریف د زیارت مستحب والی........................6
درېیم :د نبوي مسجد د زیارت آداب................................................6
څلورم :د پیغمبر ﷺ او د هغه د دوو صاحبینو رضي الله عنهما د قبرونو د زیارت کولو احکام او آداب...................................................... 15

ps492v1.0 - 06/09/2026